مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان
۲۰۲۲/۱۲/۲۶

# مجاهد او عالم فقير ايپي

فقير ايپي چې خپل نوم يې صاحب ميرزا علي خان، د ۱۹ پیړی د وروستی لسيزې په (۱۸۹۷) کال د شمالي وزيرستان کجورى پوستې ته نيږدې په کېرته کلي کې دې نړۍ ته راغی. د پلار نوم يې حاجي ارسلا خان و چې په خپله سيمه کې به يې د شخړو پر مهال د جرګو او مرکو مشري کوله او يو سوله غوښتونکی انسان و.
ميرزا علي خان چې لا فقير ايپي نه و له خپل پلار نه يې يو شمېر ديني کتابونه ولوستل او بيا د پښتونخوا بنو (ضلعه) ولسوالی ته ولاړ او هلته يې له مولوي ګل بهادر نه نوري زده کړې وکړې. خو چې په ۱۹۲۲ کال کې له مدرسي کور ته لاړ؛ نو پلار يې مړ شو او ده له خپل ورور سره يوځای د پلار ور پاتې ځمکه خرڅه کړه. خپلو زده کړو ته يې دوام پرې ورکړ او د پخې ځوانی پر مهال يې د ملا قاضي شېرزاد له لور سره واده وکړ. زده کړې يې جاري وساتلې او په تاريخ کې يې هم مطالعه پيل کړه. د خوشحال خان خټک، پير روښان او برتانيوي هند پر خلاف د جنګېدلو افغانانو په هلکه يې معلومات ترلاسه کړل.
په ۱۹۲۸ کال کې هغه حج وکړ. له خپل پلرني کلي سپلګي سيمي او بيا ميرالي ته لاړ، دا چې هغه يو ښه ديني عالم او نيک انسان و، د کلي يوې کونډې کور وکړ. په دې وخت کې يې نوم تر لرې سيمو خپور شو او خلک به د دعاوو غوښتلو له پاره ورته راتلل؛ ځکه چې هغه له تقوادارۍ سره، سره د کلي شتمنو او غريبو ته په يوه سترګه کتل او په يوه ژبه او زړه يې اړيکي ورسره پاللې.
تر ۱۹۳۶ کال پورې چې پښتونخوا کې د برتانيوي هند پر خلاف لوی ولسي لاريون پيل شو، لا هم فقير ايپي له وسله والي مبارزې لرې پاتې شو؛ خو کله چې برتانيوي هند کې د يوې نوې مسلماني شوې هندوستانۍ او يو مسلمان پر سر شخړې پيل شوې، هغه هم د جهاد سنګرونو ته راودانګل او د وزيرستان ا شاوخوا سيو ډير پښتانه پرې راټول شول، چې په دې کار سره يې ستره بريا په نصيب شوه.
نوموړي له برتانيې سره وسله واله جګړه پيل کړه، چې د ۲۰ مې پيړی په څلوېښتمو کلونو کې يې هم دوام درلود. نوموړي په خپلې بېساري تاکتيک سره په يرغلګرو پراخ بريدونه وکړل، چې هغوی ته يې درانه تلفات واړول.
کله چې برتانويان له ايپي فقير نه پوزې ته راغلل؛ نو د خپل هوايي ځواک پيلوټانو ته يې وويل، چې ايپي فقير دې له نورو پښتني پاځونوالو او مبارزينو سره يوځای بمبار کړي؛ خو هغه به هر ځل بچ کېده. يو ځل ۴۰ زره برتانيوي عسکر چې په مجهزو وسلو او وسايلو سمبال و د ايپي فقير له ۱۰۰۰ يا ۱۵۰۰ ملګرو د هوايي ځواک په مرسته تاو شول او هغوی چې تش لاسي و، په خپلو سمڅو کې تر سختې محاصرې لاندې راغلل؛ خو بيا له سختې مبارزې وروسته يرغلګر ځواکونه بيرته خپلو مرکزونه ته تش لاسي ستانه شول.
که څه هم ايپي فقير د وزيرستان و؛ خو د نوموړي د مجاهد او ميړني شخصيت له کبله د افغانستان دله، دله خلکو هم د هغه په ملاتړ د نوموړي په لښکرو کې ځان ځای کړ، چې په دې سره به جګړو کې د ايپي فقير د ټولو جنګېدونکو شمېر هم تر زرګونو پورې ورسېده او هر ځل به يې يرغلګر ماتول.
دغه ستر اتل چې ټل يې له خپلې خاورې او خلکو دفاع وکړه د عمر په وروستيو کې د ساڵنډۍ ناروغۍ ور ولوېده، چې له امله يې هغه سخت ضعيف شو؛ ان تر دې چې څو قدمه به يې هم نشو اخيستلی.
د ۱۹۶۰ ميلادي کال د اپريل ۱۶ مه وه چې د شپې مهال يې له دې نړۍ سترګې د تل له پاره پټې کړې.
د نوموړي جسده په ګورويهټ کې خاورو ته وسپارل شو. په جنازه کې يې لسګونو زرو خلکو ګډون کړی وو.
د ميرزاعلي خان (فقير ايپي، حاجي صيب) لمسيان او کړوسيان اوس هم ژوندي دي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ